بارکوال میاخېل
۲۰۲۳/۰۷/۱۲

# د پېنځه زره کلن رنځور بوډا مسیحا

هغه د یوې تکې تورې اوږدې شپې په نیمایي کې د هیلو یو نوی ځراغ په لاس په «سرِه سیلۍ» کې له کوره را و ووت، خلکو د خپلو کورونو تر کنډواله دېوالونو او سوریو دروازو په درېبدلو زړونو ور کتل او له ځانه سره یې ویل: دا لا کوم لېونی دی، چې د کرکې په دې درنه شپه کې یې «مینه» پر ځان بدرګه کړې او په زړورو ګامونو روان دی غواړي د «بد جهل، بدنیت او نفاق» د ناپایه ساړه ژمي په زړه کې ولاړ وچ شوی بې روحه «د واورې سرې» را وباسي، د امن، خوشالۍ او اتفاق د آبِ حیات په تودو جنتي اوبو یې ولمبوي او د ژوند روح پکې پو کړي.
هغه په دې اوږده سرِه شپه کې له ډار او مرګه بې پروا مخ په وړاندې روان وو، چې ناڅاپه یې یو پېنځه زره کلن «بوډا او د لېوانو پلونه» ولیدل، پلونه له وینو ډک وو، زړه ته یې ور تېره شوه چې د وطن له زړه یې د مینې او پت د «رڼا» په لوټلو پسې همدغه پلونه راغلي دي خو په دې ترورمۍ کې خلک له ډاره نه را وزي چې دا پلونه ووینې، یو تدبیر یې وسنجاوه چې څنګه ټولو خلکو ته د لېوانو دا پلونه ور ښکاره کړي، خو لاس په کار شوی لا نه وو چې یوه تېزه نالیدلې او "نامعلومه" «برېوکۍ» راغله او پلونه یې خراب کړل.

له دې وروسته به هغه تل اندېښمن وو، چې د لېوانو دا پلونه څنګه د ده وطن ته راځي خو څوک یې نه وینې، یوه شپه چې هماغه د هیلو ځراغ په لاس کې روان وو، پېنځه زره کلن بوډا ته یې سوکه- چې بل څوک یې نه واورې- داسې وویل:

-«یوه خبره درته وکړم؟»؟

بوډا چې د پېړیو پېړیو تر اوږدو دوزخي تجربو را تېر شوی وو، پوه شو چې هغه څه خبره ورته کول غواړي، ځکه بوډا خپل "زښته نارینه" اولادونه په وار وار له دې منع کړي وو، چې "د وطن مور" ونه ځوروي، پړونی، کمیش او "پړتوګ" یې پر نورو خرڅ نه کړي خو هغوی کله منل، په ناهیلي او له غربوه ډک بږغ یې ورته وویل:

تیرا مي ولیده راغلم تر سواته
پښتون مي ولید دا لوی لوی ذاته

عقل همت مي د چا ونه لید
په بیرته راغلم ناست یم ملا ماته

خو ده چې په دې ځوانۍ په دې اوږده مرګوني تیاره کې د هیلو نوی ځراغ په لاس په شپو شپو مزل راکړی وو، د پېنځه زره کلن بوډا له اوښکو ډکو سترګو ته یې ځراغ ونیو، اوښکې وځلېدې او ده په خپله همېشنۍ خندنه خوله ورته وویل:

-بابا غم یې مه کوه، د هاغې لرې سیارې یو مېلمه «جوجو» مي را غوښتی دی، چې خپل «رنګه غوږونه» دوی ته ونیسي او دوی په خپلو خړو غوږونو د هغه خبرې واورې، ګوندې ستا بچې د هغه په ژبه پوه شي او تر خپل جنت شاوخوا را ګرزېدلي د بدمرغی او ناپوهی «اغزن سیم» د مینې او وروری په تېره بیاتي غوڅ کړي.
لا په همدې ترورمۍ کې روان وو، چې له یوې لرغونې کلا یې چیغې واورېدې، «زرو» یې مره کړه، «زرو» یې مره کړه، ور په یاد شول چې دا خو د هغه ستر «نیکه» کلا ده، چې په ژوند یې دې وطن ته د لېوانو پلونه نه شوای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

راتلای، خو د هغه له مرګه څو پېړۍ وروسته «بغدادي پیران» دې وطن ته را مات شول او هغه «پټان» یې هم د جادو تر اثر لاندې راغی چې ونه یې تر اسمانه رسېدلې وه، بیا نو څه وو، پیر غلی ورته ناست وو او پټان د هغه په لمسه دې وطن ته د جنګ یو داسې له سکروټو جوړ دوزخي «ټال» جوړ کړ، چې که هر څو خلک د امن قرآن پر سر تر لاندې تېر شول خو پکې لولپه شول.

اوږده دوزخي شپه لا نه وه تېره او ده لا پر خپل خولې شوي ورغوي د هیلو نوی څراغ را اخیستی وو، فکر یې وکړ چې تر سپېدو پورې دا مزل نور په یواځې نه شي لنډولای او باید د نفاق په ژوره کنده کې لوېدلیو ورونو ته لاس ورکړي او په «اشر» په دې وطن کې جوړه د شر «د غنې ځاله» ورانه کړي او د سرو لمبو په منځ کې یوه داسې «د معجزې تیږه» کښېږدي، چې اورکم یې په همېشني اوربند بدل شي، خو د دې کار لپاره ژور تدبیر پکار وو.

پر ټولو اشرګرو یې ږغ وکړ، «راځئ کیسه ولیکو»، هغوی یو بل ته حیران وکتل، چې د څه شي کیسه په لیکي، ده یې حیراني ختمه کړه او ورته ویې ویل، یو داسې داستان به په ګډه ولیکي چې د ژوند «په فلسفه کې تلپاتې پېښې» پکې را وسپړي او پېچلې غوټې یې د عقل په غاښ خلاسې کړي، ګوندې د «ابوریحان البیروني»، «کاتب هزاره»، «محمد موسی شفیق» او «محمد هاشم میوندوال» غوندې ژوندي کرکټرونه یې پینځه زره کلن بوډا ته یو نوی روح ورکړي او د پېړیو پېړیو زخمونه یې ټکور کړي، خو لا یې د دې داستان په لیکلو پیل نه وو کړی، چې «د وطن مور» ته یې په توره تیاره شپه کې یو بل مېړه په درنو ګامونو راتلونکی ولید او له «اخ وطنه!» سره یې وینې تر خوله کې کړې، زړه یې ودرېد او د وطن د مور په سترې او خوږمنه غېږ کې په ابدي خوب ویده شو.

بارکوال میاخېل

د نصیر احمد احمدي دویم تلین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ